سيد رضا صانعي ۱۴/۰۶/۲۰۱۲

# حافـظ الاســد، ســوريه، بعـث

ژباړن: مجيب الرحمن ساپی

بعث يا پاڅوني د الارسوزي، چي د سوريي د علويانو له ډلي څخه دی د فکر زېږنده ده، چي د ماروني مسيحي ميشل عفلق او صلاح الدين بيطار له لوري بنسټ يي ايښودل شوی او واک ته رسېدلی دی.
د سوريي د بعث گوند په لومړي سر کي په کودتا سره پيل شو، چي د ۱۹۶۳ زېږدي کال د مارچ په مياشت کي بعثيانو د کودتا له لاري واک تر لاسه کړ او لکه څنگه، چي سوريه نوي سياسي ډگر ته د دانگلو په حال کي وه، هغه قومي لږکيو (اقليت) ته زمينه برابره شوه، چي له دې وړاندې يې د سوريي په سياسي ټولنيز ډگر کي شتون نه درلود.
له هغه مهاله، چي عثمانيانو له پرانسوي مسيونرانو او ختيځ پېژندونکو څخه پر علويانو د فشار آلي په توگه کار اخيست د بعث د ايډيولوژی تر رامنځ ته کېدو دغه لږکۍ په بشپړه سياسي ټولنيز انزوا کي و او د خپل تاريخ ډېری برخه يې د سوريي په غرونو کي تېره کړې ده.
د علويانو شاليد په اړه ډېرې څرگندوني شوي دي. يو شمېر يې د بيزانس ارتدوتکس او ارمني مسيحيت بدله شوې بڼه بولي، يو شمېر يې له اسلام څخه وړاندې پر ډلو د شيعه پوښښ گڼي؛ خو علويان بيا ځان شيعه او د اسلام سپځلي دين په لاربښوونو ولاړ گڼي.

<u>الحرية، الوحدة، الإشتراکية</u>
خپلواکي، يووالی او سوسياليزم په ۱۹۶۹ زېږدي کال کي د بعث گوند شعار شو. ميشل عفلق د گوند ايډيولوگ په توگه وويل: دغه درې شعارونه د گوند اساسي آرمانونو په توگه، چي د يوه متيافيزيکي واقعيت بېلابېل او نه په ډاگه کېدونکي اړخونه رانغاړي، د عرب ولس نه بېلېدونکي موخي شمېرل کېږي. د عفلق په آند سربېره پر يادو موخو عرب ولس يوه بل معنوي زېږندی يا نوي پاڅوني ته اړتيا لري، څو د دغو آرمانونو لاره ورته هواره شي. د دغه ليدلوري له مخي بايد د عربي ټولني بدلون په پرتله د عربي وگړي معنوي بدلون لومړيتوب ولري. په واقعيت کي د بعث گوند نوم، چي د پاڅوني په معنی ده په همدې باور د عربي ولس معنوي بدلون اړتيا ريښه لري.
د بعث گوند په ۱۹۵۳ زېږدي کال کي د اکرم حوراني په مشرۍ د سوريي له سوسيالست گوند (حزب الاشتراکية) سره يو ځای شو او دغو دوو گوندونو د بعث عربي سوسيالست گوند رامنځ ته کړ. په لومړيو کي دغه گوند د ۱۹۵۲ زېږدي کال د مصر انقلاب د مشرانو له بنسټ پاله پان‌عربيزم څخه په کلکه ملاتړ کاوه، چي د عربو متحد جمهوريت تر نامه د سوريي او مصر د يووالي اصلي لامل وگرځېد او په عراق کي د عبدالکريم قاسم د حکومت پر مهال له ده سره خونړۍ نښتي تر سره کړې؛ خو د عربو په متحد جمهوريت کي د نورو گوندونو په منحل کېدو سره د بعث گوند په ځانگړي توگه د اکرم حوراني ډلي له ناصر سره مخالفت پيل کړ او په ۱۹۶۱ زېږدي کال کي د ياد جمهوريت له منځه تللو څخه وروسته ورو ورو د بعث گوند په سوريي کي واک تر لاسه کړ او په ۱۹۶۳ زېږدي کال کي يې په بشپړه توگه د سوريي واک تر لاسه کړ.

<u>ميشل عفلق او اکرم الحوارني د بعث گوند بنسټ ايښودونکی.</u>
د بعث گوند باور د عرب قوم پر اصالت او رسالت ولاړ دی. بعث د عرب له خليج څخه تر اتلانتيک سمندره د واحد عربي دولت پر رامنځ ته کېدو باور لري.
د بعث سوسياليزم د ټولني پرگنو ترمنځ پر همکارۍ او مرستي ولاړ دی نه پر طبقاتي جگړې او مبارزې، له دې امله بعثيان له علمي سوسياليزم سره مخالف دي او اصولاً سوسياليزم يو ډول نشنليزم گڼي، چي عربانو ته دا امکان ورکوي، څو خپل توان په ډاگه کړي. بعث د دين او سياست پر بېلوالي باور لري او هغه ارزښت، چي اسلام ته ورکوي يوازې له قومي او کلتوري ليدلوري څخه دی.
د (نوي صلاح) په مشرۍ نويو کيڼ اړخو او بنسټ پالو بعثي ځوانانو د ميشل عفلق په مشرۍ تجربه لروونکي سياستوال يي په محافظه کارۍ تورن کړي. کيڼ اړخو بنسټ‌پاله ځوانان په لوېديځ په ځانگړي توگه په پاريس کي د لوړو زدکړو تر سره کولو له امله له مارکسيستي آندونو سره آشنا ول، چي له امپراليزم سره د مبارزې لاره يې د


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

پانګوني له منځه وړل په ګوته کول او عربي او اسلامي ارزښتونو او کلتور ته يې چندان پاملرنه نه درلوده. پر میشل عفلق د دوی نیوکه دا وه، چې د ده له لوري سیوسیالیزم د نشنلیزم قرباني شوی دی.
عفلق له بعثي حکومت سره اړیکې نه درلودې او د هغو فشارونو له امله، چې د سوریې له لوري پر عراق راغلل صدام حسین ده ته د عراق په بعث ګوند کې ښه مقام ورکړ، څو له دې لارې د سوریې بعث ګوند په پرتله د عراق بعث ګوند ځواکمن کړي. البته د عراق بعث ګوند د عفلق پراخو ګوندي اعتراضونو ته کوم ارزښت نه ورکاوه.
عفلق په ۱۹۸۹ زېږدي ومړ او د عراق دولت د ده د مړيني له کبله د وير شانداره مراسم تر سره کړل. میشل عفلق د صدام حسین معنوي پلار شمېرل کېږي.

حافظ بن علي بن سلیمان بن اسد
حافظ الاسد د ۱۳۰۹ لمريز کال د میزان میاشتې په ۱۴، چې د ۱۹۳۰ زېږدي کال د اکتوبر له ۶ سره برابره ده د سوریې په لوېدیځ د الاذقیه ښار په قرداحه سیمه کې په علوي کورنۍ کې وزېږېد. دی له ځوانۍ څخه د عرب ملت-پالنې او د سوسیالستي او د استعمارۍ ضد آندونو تر اغېز لاندې راغی او په ۱۶ کلنۍ کې له بعث ګوند سره یو ځای شو. دی په ۱۳۳۰ لمريز کال، چې له ۱۹۵۱ زېږدي سره برابر دی د سوریې د زدکوونکو سراسری شورا (المؤتمر العام لطلبة سورية) مشر په توګه وټاکل شو. حافظ په ځوانۍ کې غوښتل، څو د طب ډاکتر شي؛ خو د اقتصادي ستونزو له امله و نه توانېد خپله دغه هیله پوره کړي او له هوايي ځواک سره یو ځای شو، چې د (نوي صلاح) دولت پر وړاندې، چې له ده سره د عفلق مشرۍ پر وړاندې په کودتا کې یو و کودتا وکړه.
د ۲۲ کلونو په اوږدو کې په ۵۲ کودتاوو سره سوریه په نړۍ کې د تر ټولو زیاتې کودتا لورنکي هېواد په توګه پېژندل کېږي.
د دغې کودتا په پایله کې، چې د( الحرکة التصحیحیة) اصلاح غوښتونکي خوځښت په نامه یادېږي نوی صلاح او نور الدین آتاسي له لومړۍ وزیرۍ او ولسمشرۍ او له ټولو ګوندي دریځونو څخه لرې او بندیان شول او د حافظ الاسد په لومړي وزیرۍ نوی دولت رامنځ ته شو. څلور میاشتې وروسته د ۱۳۴۹ لمريز کال د کب میاشتې په ۲۱، چې د ۱۹۷۱ زېږدي کال د مارچ میاشتې له ۱۲ سره برابره ده حافظ الاسد د سوریې ولسمشر په توګه وټاکل شو.
حافظ الاسد په خپل بهرني سیاست کې د دې په لټه کې و، څو سوریه له انزوا څخه بهر کړي؛ له همدې امله یې په بهرنیو اړیکو کې د شخړو له منځه وړل غوره کړل. په لومړیو کې یې ده هڅه وکړه، څو د سیمې له هېوادونو سره خپلې اړیکې ښې کړي او له هغه وروسته په ډېرې هوښیارۍ او محافظه کارۍ سره له لوېدیځو هېوادونو سره خپله ملګرتیا یې پیل کړه. حافظ الاسد د اسراییلو پر وړاندې منفي لید درلود او له دوی سره یې په مبارزې کې ټول امکانات په کار اچول. حافظ ایران ته دخپل سفر په ترڅ کې د ایران له پادشاه محمد رضا شاه پهلوي څخه ۳۰۰ ملیونه ډالره مرسته تر لاسه کړه. په ورته وخت کې اسد د موسی صدر او ډاکټر چمران له لارې د پهلوي رژیم له مخالفینو سره نږدې اړیکې درلودې.
حافظ الاسد د خپلې واکمنۍ پر مهال د واک په جوړښت کې یې هېڅ راز اساسي بدلون رامنځ ته نه کړ او د ده د واکمنۍ پر مهال د سوریې سیاسي نظام د نسبي ثبات درلودونکی و. ده اړین پوځي، اطلاعاتي او امنیتي دندې علوي پوځیانو ته وسپارلې. حافظ الاسد د بعث ګوند له لارې د واک په قبضه کولو سره یې نورو خپلواکو سیاسي او مخالفو ګوندونو ته د فعالیت اجازه ور نه کړه او یوازې د بعث ګوند د سوریې رسمي ګوند په توګه پېژندل کېده.
امنیتي ارګانونو ته د پراخو واکونو ورکول، د مخالفانو بندیانول، په بندخونو کې د بندیانو بد حالت، د وینا او آند آزادۍ او د خپلواکو قضایي ارګانونو نشتون د هغو مواردو له برخې څخه دي، چې د ده پر حکومت یې ډېرې نیوکې متوجه کړې وې.
په کورني ډګر کې د حافظ الاسد اساسي کړکېچ د حاکم بعث ګوند پر وړاندې د سوریې اخوان المسلمین غورځنګ مخالفت و. په ۱۳۵۲ لمريز کال، چې ۱۹۷۳ زېږدي سره برابره د سېکولار اساسي قانون تدوین، په همدې کال کې له جګړې وروسته د سولې له لړۍ سره یو ځای کېدل او د مسیحي مارونیانو په پلویتوب او د فلسطیني ډلو پر ضد د لبنان په کورنیو چارو کې لاسوهنه هغه څه ول، چې په سوریې کې یې د حافظ دولت پر وړاندې د اخوان المسلمین مخالفت په جدي توګه رامنځ ته کړ.
په حمص او حما ښارونو کې د اخوان المسلمین پاڅونپیل شو، چې د حافظ الاسد ورور رفعت ا لاسد تر قوماندې د پوځ ځواکونو په ټول شدت او تاوتریخوالي سره دغه پاڅون وځاپه او دواړه ښارونه یې تر خپلې ولکې لاندې راوستل.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

حافظ الاسد د ۲۰۰۰ زیږدي کال د جون میاشتي په ۱۰ نېټه د لبنان له ولسمشر امېل لحود سره د ټیلیفوني خبرو اترو پر مهال د زړه ناروغۍ له امله د ۶۹ کلنۍ ومړ.
د کودتا له پیل څخه تر مړیني حافظ الاسد ته له نږدې کسانو څخه یو هم عبدالحلیم خدام دی. دی د حافظ الاسد او بشارالاسد دولت ترمنځ د نښلوونکي کړۍ رول لوبوي او د اساسي قانون له تعدیل وروسته، چې د بشارالاسد له عمر سره برابر نه وو دولت ده ته سپاري.
په ۲۰۰۰ زیږدي کال کې د حافظ الاسد له مړیني څخه وروسته بشارالاسد ولسمشرۍ ته لار ومونده او د بعث ګوند مشر په توګه وټاکل شو.
عبدالحلیم خدام په ۲۰۰۵ زیږدي کال کې له خپلې دندې په استعفا ورکولو سره د سوریې حکومت له مخالفینو سره یو ځای شو. دی د محکمې له لوري په ابد حبس محکوم شوی دی. د هغو اسنادو له مخې، چې د پرانسې خبري آژانس تر لاسه کړي دي، خدام د سوریې مشرۍ ته په افترا او د لبنان پخواني لومړي وزیر رفیق حریري قتل په اړه نړیوالی محکمې ته د دروغ ویلو په تور  بندي دی.
اوس مهال بیا عبدالحلیم خدام د دې په لټه کې دی، چې د معمر قذافي دولت پر وړاندې د انتقالي شورا په څېر په سوریې کې هم د بشارالاسد پر وړاندې ورته انتقالي شورا رامنځ ته کړي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ